مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر
۲۰۲۴/۰۳/۱۱

# د معرفت جنازې

یو څوک مې لوړ پرواز، او الـوتو ته نه پرېږدي
قلم له لاســـــه اخـــــــلي، کـتابو ته نه پرېږدي

بمونه راته کیږدي، محـــراب او په منــــبر کې
د مینې خـــوررولو، پـــــیغامــــو ته نه پرېږدي

زهرجنه په هر خـــوا کړي، فضــا مې د وطن
د سـولې فلســـــفې، او خــــیالو ته نه پرېږدي

و باســـي له وطـــــنه، جــــنازې د مــــعرفت
انجونې مو تعلیم، او مکـــــتبو ته، نه پرېږدي

تړي راته هـــر لوري ، دروازې د مـــــعرفت
ځوانان مــــو د پوهنــــې، ارادو ته نه پرېږدي

سازونه د مطرب هم،حـــــرام ګڼي مذهب کې
رباب له لاســـه اخلي، او نغــمو ته نه پرېږدي

احســـاس د حریت مو زلمیانو کې دوی وژني
ځوانان مو له غفـــلته ، ویښیدو ته نه پرېږدي

له بیــــخه ورانـــوی راته،بـــنیاد د معرفت
د علم و فن رڼا هم، خــوریدو ته ، نه پرېږدي

ښړي مو له ګلـشنه، خــوش الـــحانه بلبلان
بلبل هم په چـمن کې ترانـــــو ته نه پرېږدي

د ښایســــته ګـــــلونو، وهی دلــــته سرونه
یو ګل د امـــیدونو،غـــوړیدو ته، نه پـریږدي

باران که درحـــمت وي د دوي په لاس نادره
یو څاڅکی د رحمت هم ،وریدو ته نه پریږدي

آمریکا کلفرنیا المیدا د ۲۰۲۳ کال د آګست میاشت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ